استادشهسوارسنګروال ۲۰۱۹/۰۱/۲۵

# افغان یا پښتون؛ له کومه سو؟

یو شمېر تاریخ پوهان اولرغون پېژندونکي انګېري، چې تاریخ په افسانه کې دی او دروم په څېر د یوه لرغوني هېواد تاریخ هم له افسانې پیل شویدی.

افغانستان هم د یوه لرغوني هېواد په څېر اوږد تاریخ لري او لاتر اوسه هم دافغانستان پرمخ سپېرې دوړې پرتې دي،خودمخ له کومې برخې،چې پلو لرې شوی هم دی لاتت برېښي ...!؟ددې یوسترلامل دادی،چې مورږسرپه سرجګړودېته نه یوپرې ایښې،چې دهېوادرېښتنې څېره اوانځورنړۍ ته وښېیو...

خوبیا هم ګڼ شمېرتاریخپوهان،لرغون پېژندونکي اوژبپوهان دامني،چې پښتانه اوافغا نان دافغانستان تاریخ دکارناموېوه ستره اوغوښنه برخه ده،چې څوبېلګې داسې دي،:

- علی اکبرجعفري دژبپوه مورګن سترن له انده کښلي دي،چې په ویدي سرودونوکې د ؛پرشو؛کلیمه،په اوستا یې سرودونواوسنسکرت کې ؛پرسوانه ؛ یا پرشوانه (پرشانه ) داوسني پښتون له نوم سره ترړاولري....

- له دې سرببره دتا ریخ پلار هېرودوت،چې دګندهاراهېواد په لمنوکې دیوشمېرقومونویا دونه کړېده،دساري په توګه اپاریتي ستاګېدي دادیکي اوګنداري...ددغوقومونوپه لړکې یوهم داپریتي تېردی،چې مورګن سترن دهېرودوت اپرېتي اوسني اپرېدي ګڼي ،(وګورئ دایرت الاسلامي لومړی ټوک 217مخ ) .

- جورج ګریرسن که له یوې خوا په ریګویداکې د؛پکتاس؛ یا پختوس (پکتوس)دکلیمې پخلی کوي،خوله بلې خوادمورګنسرن هغه خبره هم ستایي،چې دیوه هندي منجم وراهه میهیرا؛اوګانه؛اوسنی افغان ګڼي ...که څه هم مورګنسرن دهېرودوت پختین اویاپکتیوس سره اوږه نه وړي...خوبیلواوګریرسن دهېرودوت پختین =پکتیس=پکتین اوسنی پښتون ګڼي او؛اوګانه؛اوسنی افغان ...(دډېرومعلوماتولپاره وګورئ سروې زبان هاې هندي 5مخ )

- کننګم دهندوستان په جغرافیه نومي کتاب کې دهون څانګ اپوکین افغان بولي ،ولی نومړی له دې څخه خبرنه وو،چې میهیرا په سنیهیتا نومې اثرکې د؛اوګانه؛یادونه کړېده ...پانیني بیا ددې ټولوخبرپخلی داسې کوي،چې دغه وګړي په بلهیکا کې اوسېدل ،چې ترډېره بریده هندي لرغون پوهانو دغه نوم باختراویا باکتریاته کا روه ...!؟

- په مهاباراته کې داوګا نه نوم داسواکه په بڼه راغلی دی،چې دغه وګړي په ګندهاراکې اوسېدل .مارتن ؛هم نوروانګېرنوته ورته په دې ټینګارکوي دغه نوم ،چې په سنسکرت کې اسا که وروسته اسواکا،اسواغانه،اسواګانه اوپه پاې کې اپاګانه راغلی دی،ددغوټولومعربه بڼه ؛افغان؛دی. .

- دشلمې پېړۍ په لومړنېیودرې لسېزوکې دامریکا له شیکا ګونه یوپلاوی دایران شېرازښارنقش رستم ته راغی اوهلته یې یوشمېرکتیبې اوډبرلیکونه وپلټل اوپه دغه لړکې یوه کتیبه ترګوتوکړه،چې په دویم بند کې پښکا پوراوپه شپږم بند کې اپګا نه کښل شوی وو.

وروسته په 1940کال شپرنګ لون په همدې اړه یوه مقاله ولیکله اوبیا یې په سا مي مهالنۍ کې خپره کړه اوپه دې یې ټینګاروکړ،چې دنقش رستم دکتیبې اپه ګان اوسنی افغان د ی ...

سراولف کارو،بیلواوکروسنسکي دتېروڅرګندونوپربنسټ وایی،دریم شاپور(309-379زکال)په ځان داپګان لقب ایښی وواووياړیې پرې کاوه . .

الماني تا ریخپو؛دیوستي؛اودېټانزکتاب لیکوال سراولف کا روهم په دې اند دي،چې د اپګان=ابګان معربه بڼه افغان دی .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یوشمېرکسان په نا پوهۍ کې انګېري،چې افغانان اویا پښتانه یوازې دسلیما ن غره اوسېدونکې ووا‌وپه لرغوني تاریخ کې ددوئ دشتون په تړاوبل کوم داسې لاسوند نه دی ترسترګوشوی،چې ددوئ داستوګنې څرک ترې ترسترګوشوی وي ...

دافغانستان په لرغوني تا ریخ کې،دسلیمان دغره په اړه،چېبرته چې افغانان مېشت ول،داسې یوروایت شته چې،فریدون درې زامن درلودل چې سرم (سلم)،تور(توران) او؛ایرج؛نومېدل...که څه هم دافغانستان په استوروي تاریخ کې ددې کیسې بشپړانځورراغلی دی،خودلته موږ په لنډیزسره ویلی شو،چې له همدې سلم ،سلیمان انګېرل شوی دی،چې په اوستاکې ورته سریمان اوپه پهلوي ژبه کې سرم ویل شوی دی !؟

دافغانستان تاریخ نومې کتا ب کې ؛تتلر؛دراورتي له انده کښلي دي ،هغه وګړي،چې په سلیمان غره کې اوسېږي هغه پټان یانې سلیمانخیل دي ...

موږدمخه دبرون له قوله،چې دایران په جغرافیه کې ورته اشاره کړېده وکښل،چې دفېروزکوه (غور)دغره اوسېدونکې ټول افغانان (شنسبیان،ماهویان)دي ...چې بارتولد دغې سیمې ته غرج،غرش غرچ نومونه ورکړي،چې له غورنه ترمرغابه پورې غوځېدلې وه.بارتولدپه دې خبرې هم ټینګارکوي،چې یادې کلېمې اریایي بڼه لري . .

بیلود؛افغانستان قومونه؛کتا ب کې د؛دویم لیږد؛په نوم دپښتنوبیا کډوالي ترسرلیک لاندې چې،دخپل پلرني ټا ټوبي په لوربیا ورغبرګ شول،وایي،چې دوئ دخپل مینځې ستونزوله امله له ګندهارانه دلومړئ زیږدي پیړۍ په شا وخواکې غورته لاړل،په فېروزکوه کې دافغانانو داستوګنې په تړاو ،ملسن،ابن بطوطه اوتامسن هم ددې خبرې پخلی کړی،چې په لرغوني زمانه کې افغانان دلته اوسېدل اوهغه؛دمارتن؛ خبره چې دسلیمان دغرونواوږدوالی چې پښتانه په کې ودان ول شپږسوه(600)کیلومتره اوږدوالی لري ...همدارنګه فېروزکوه هم ددغې سېمې یوستراوپراخ غرګڼلی شو...تاریخپوه احمدعلي کهزادپخپل اثرافغانستان درپرتوتاریخ کې ددې سېمې داوسېدونکوپه اړه کاږلي دي: ؛غوري شنسبیانو،چې دحکومت پلازیې غورووله تخار،بدخشان،بامیان،نیولې ان ترکشمیرپورې واک درلود .؛(افغانستان درپرتوتاریخ167مخ).په دغه مهال ترډېره بریده دغوراوسېدونکي سوري اولودي(شنسبیان،ماهویان)پښتانه وو.له غوري پښتنوسربېره له کابله نیولې،غزني،زابل،کندهاراوان ترهلمنداوسېستان پورې دنوروپښتنوپه څنګ کې لویکانوپښتنوهم په یادوسیمولکه دغوري سلطنتي کورنۍ په څېرډسیمه بیزواک څښتن ول ..

دافغانستان په لرغوني تاریخ کې ددرې سلطنتي کورنېیولکه پېشدادي،کیاني اوداسپه سلطنتي کورنېیودواک په تړاوډېرې څرګندونې شویدې،چې نه غواړم په دې اړه اوږدې خبرې وکړم،یوازې دومره غواړم،چې دبیلوهغه خبره راغبرګه کړم چې ویلي دي،هغه مهال چې سکندردافغانستان دنوروسیموپه څېرکونړته مخه کړه اودده پرورړاندې،چې کوم وسله وال غبرګون په کونړاوباجوړکې ترسره شو،یوتبرهم اسپه زي وو.دی انګېري،چې داهمغه وګړي ول چې په باختر(بلخ)کې سلطنت درلود اواوس دیوسف زېیوپه نامه یا دیږي.

یوه بله خبره،چې ډېره موهمه ده هغه داچې،بیلو،سایکس،راورټي اوګریرسن انګېرلي دي،چې داریوش وغوښتل اسیایي سیمې ځانته معلومې کړي،نوبیایې دوه تنوته دنده وسپارله،چې معلومه کړي اندوس چېرته په سمندرګډېږي ؟ دغودوه تنوخپل سفرله؛پاکتیوک؛(دهېرودوت پختیوس،یا پختین،پشتین)څخه پیل کړ.

داچې یوشمېرانګېرني دخراسان په نوم ترغوږوکیږي،چې ګنې کوم وخت کې دغه نوم افغانستان ته کا رول کېده،یوه لویه تاریخي تېروتنه ده.

د افغا نستان په سیاسي جغرافیه کې، کله هم موږ د تاریخ په اوږدو کې د خراسان په نوم کوم هېواد نه درلود او دغه نوم د لومړي ځل لپاره، هغه مهال چې پارتیانوپه دربیمه جګړه کې له ساساني اردشېرنه ماته وخوړه،نوپارتیانودباخترلورته مخه کړه نودلته دی چې دغه کلیمه دشرق په مانا وکارول شوه داځکه چې عرب نه ووراغلي او هغه وخت کې دشرق لغت اوواژه هم نه وه.دویم ځل چې دعربوله لښکرویزدګردماته وخوړه اوبیا یې افغانستان ته پنا راوړه دخراسان کلیمه بیا دودشوه...

په لنډمهاله توګه بیادغه کلیمه دافغانستان یوشمېرښارونوته،چې سیمه ییزه بڼه یې درلوده کارول شوی دی اودانه یوازې دافغانستان یوشمېرسیموته بلکې دایران اومینځنۍ اسیا یوشمېرښارونه هم دخراسان په نامه یا دېدل...ولې له دېنه دمخه اووروسته ،
دسېمې هېوادونه اوپه دغه لړکې افغانستان دواکمن ټبرپه نومونویادېده اوایران هم،لکه هخامنشیان،ساسانیان،صفویان،قاجاریان اونور.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دايران نوم دشلمي پېړۍ په درېيمي لسيزه کې،په ايران کېښودل شو.

افغانستان هم دتا ريخ په اوږدوکي د پيشدادي، کياني، اسپه زي،پارتي،ساکستاني،کوشاني،يفتلي،صفاري،ساماني،غزنوي،غوري...اواحمدشاه ابدالي ددولتونوپه نوم يادېده .

داسلام دسپېڅلي دين له خپرېدومخه اووروسته سربېره له دې چې دپښتون اويا دافغان قوم شتون دپښتوادبياتوپه پلکلوريک اويا ولسي ادب کې څرګند دی،دارنګه په دويمي هجري پېړۍ کې دليکلي ادب په پانوکې هم دپښتوادب شعرترسترګوکېږي .

له دې چې راتېرشو،په حدودالعالم کې راغلي دي،چې افغانانودسول په غره کې ژوند کاوه ...

عبدالجبارعتبي په يمني تاريخ کې کښلي دي،کله چې ژمی تېرشو،سلطان محمود دغزني په غرونوکې دپښتنودڅېلوپه موخه روان شو ،څکه چې هغوئ دغزني په دروکې مېشت اواباد وو.

ابن اثيرليکلي دي کله چې له غزني نه هند ته روان شوم په لاره کې ټول افغانان مېشت ول ...

محمد قاسم په فرشته کې ليکلي دي،کله چې بهرمشاه خپل دښمن ارسلان ته ماته ورکره ،افغانانوته يې پنايوړه .

ابن بطوطه پخپلي سفرنامه کې کاږلي دي،کله چې هندته روان وم په پکتياکې له ګنو افغانانوسره مخ شوم .

عبدالحی بن ضحاک ګرديزي دخپل کتاب په پاڼوکې کښلي دي دپکتيا په غرونوکې ټول افغانان اباد وو.

ابوفضل بېهقي په واروار دغه خبره کرېده چې افغانان په غزني کې استوګن ول .

سيف بن يعقوب په هرات نامه کې 35واري افغانستان او2واري اوغانستان يا دکړی دی .

احمدعلي کهزادپه افغانستان درشهنامه کې ليکلي دي په سنسکرت کې داوګان اويااوګانه کليمه اسواغانه راغلي ده .

په ترکيه کې دسلطان احمدخان په موزيم کې ما په يوې قطب نامه کې دافغانستان نوم،چې د1737م کال پورې اړه درلوده ولوست اوڅلورخواته يې دغه هېوادونه يادشوي ول:شمال ته بخاره ،جنوب ته هند،شرق ته چين اوغرب ته عجمستان په ګوته شوي وو.

په 1782کال دبنګال دختيځي کمپني يومامورچې جورج پوسترنومېده په خپلې سفرنامه کې دافغانستان ددولت يادونه کړي ده .

کپتان رابنسن په خپل کتاب؛نوماد،ټرايبس؛کې ليکلي دي،چې ددې سيمي سوداګري همدغوپښتنوقومونوکوله،چې ان تربدخشان پورې به يې سوداګريزه توکي له هند نه افغانستان اوله افغانستانه هندته لېږدول...خوکله چې ببېرۍ،اورګاډۍ اوموټرونه مېنځته راغلل وروروېي دخاروېيوپه تېره داوښ ارزښت تت کړاوپه پای کې دخاروېيو سوداګريزه بڼه په ټپه ودرېده .

دافغان په ننګ مې وتړله توره

ننګيالی دزماني خوشحال خټک يم.

داوس لپاره همدومره



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ